# له کمپ مېشتو کډوالو سره مالي مرسته

Informasjonsskriv til beboere i asylmottak om stønad – Pashto versjon

# Innhold


له کمپ مېشتو کډوالو سره مالي مرسته ..... 3

**اسو د پیسو د ترلاسه کولو حق لرئ** ..... 3

**کیدای شي تاسو د نورو لګښتونو د پوره کولو حق هم ولرئ** ..... 3

**هغه لګښتونه چې پرته د غوښتنلیک له لیږلو څخه د کمپ لخوا ورکول کیږي** ..... 3

**تاسو باید د لښګتونو د پوره کولو لپاره غوښتنلیک وړاندې کړئ** ..... 4

**خپله برخه پیسې** ..... 4

**تاسو کولای شئ پیسې مخکې ترلاسه کړئ** ..... 5

**مقررات** ..... 5

## له کمپ مېشتو کډوالو سره مالي مرسته

هغه کسان چې په کمپ کې ژوند کوي، مالي مرسته ترلاسه کولای شي.

په دې لیک کې به تاسو د هغو لګښتونو په هکله معلومات ترلاسه کړئ چې د کډوالو د چارو د ادارې (UDI) لخوا ورکول کېږي. په دې هکله بشپړ معلومات او مرسته د کمپ د کاروکوونکو لخوا ترلاسه کولای شئ.

## اسو د پیسو د ترلاسه کولو حق لرئ

تاسو ته په میاشت کې دوه ځله یوه ټاکلې اندازه پیسې درکول کېږي (بنسټیزه مالي مرسته). تاسو ته دا پیسې نغدې او یا د بانکي حساب له لارې درکول کېږي. یادې پیسې تاسو ته د لومړنیو لګښتونو د پوره کولو لپاره درکول کېږي.

د پیسو اندازه په دې پورې تړاو لري چې:

- تاسو د پناه غوښتونکو په کوم ډول کمپ کې اوسېږئ:
  - که په کمپ کې خواړه نه ورکول کېږي، نو تاسو ته د هغو کسانو په پرتله ډېرې پیسې درکول کېږي چې په کمپ کې خواړه ترلاسه کوي.
  - که چیرې تاسو په ترانزیت (لنډمهاله) او یا بیړني کمپ کې اوسېږئ، نو د هغو کسانو په پرتله کمې پیسې درکول کېږي چې په دایمي کمپونو کې اوسېږي.
  - که چیرې د کډوالو د راتګ په ملي مرکز کې اوسېږئ، نو تاسو ته پیسې نه درکول کېږي، خو خواړه، د حفظ الصحی توکي، بستره او د اړتیا په وخت کې کالي درکول کېږي.
- آیا یوازې که له کورنۍ سره یوځای یاست او د ماشومانو عمرونه
- د پناه غوښتنې د دوسیې حالت
  - که چیرې ستاسو غوښتنلیک رد شوی وي او یا مو غوښتنلیک د واقعیتونو پر بنسټ نه اروزل کېږي او باید ناروې پرېږدئ،په داسې حالتونو کې لږې پیسې درکول کېږي.
- که چیرې تاسو پیسې او ارزښت لرونکې توکي ولرئ. که شتمني یا تنخوا ولرئ، نو په دې هکله باید د کمپ کارکوونکو ته معلومات ورکړئ.

## کیدای شي تاسو د نورو لګښتونو د پوره کولو حق هم ولرئ

بنسټیزه مالي مرسته ستاسو د لومړنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره ده، خو سربېره پر دې تاسو د نورو لګښتونو د پوره کولو حق هم لرئ، چې دې ته اضافي مرسته ویل کېږي.

تاسو اضافي مرسته په دوه ډوله ترلاسه کولای شئ:

۱. پرته له دې چې تاسو لومړی غوښتنه وکړئ، لګښتونه د کمپ لخوا درکول کېږي. د لګښتونو د پوره کولو په اړه د کمپ له کارکوونکو سره خبرې وکړئ.

۲. د لګښتونو د پوره کولو لپاره باید د کډوالو د چارو ادارې (UDI) ته غوښتنلیک واستوئ. په دې هکله د کمپ له کارکوونکو څخه مرسته ترلاسه کولای شئ. تاسو باید د ځواب تر ترلاسه کولو پورې انتظار وباسئ چې د لګښتونو پیسې درکول کېږي او که نه.

### هغه لګښتونه چې پرته د غوښتنلیک له لېږلو څخه د کمپ لخوا ورکول کېږي

ټول کسان چې په کمپونو کې اوسېږي، لاندې لګښتونه ورکول کېږي:

- د ارواه پوه (روحي ډاکتر)، رواني ډاکتر او فیزیوتراپي لګښتونه کله چې دا د رواني درملنې یوه برخه وي. د درملنې ځای ته د ترانسپورت اړین لګښتوونه هم ورکول کېږي.
- تر یوې ټاکلې اندازې پورې د هغو ماشومانو لپاره وسایل چې وړکتون یا ښوونځی پیلوي.

- د زیږون پر مهال تر یوې ټاکلې اندازې پورې د لګښتونو ورکول، البته که چیرې د زیږون لپاره د یوځلي مالي مرستي[1] مستحق نه یاست.

هغه کسان چې د کډوالو د راتګ په ملي مرکز، لنډمهاله کمپونو او یا بیړنیو کمپونو کې اوسیږي، لاندې لګښتونه ورکول کیږي:

- اړین روغتیایي لګښتونه لکه هغه درمل چې په نسخه ورکول کیږي، ډاکتر یا روغتونه ته د ورتګ لګښت
- د غاښونو بیړنۍ درملنه
- د ناروغۍ پر مهال د ترانسپورت لګښتونه
- جوړې شوې عینکې

هغه کسان چې په ټولنه کې د ادغام په کمپونو کې اوسیږي، لاندې لګښتونه پوره کیږي:

- په ټولنه کې د ادغام د پروګرامونو او اقداماتو کې د ګډون لپاره د عامه ترانسپورت د میاشتنې ټکټ لګښت

**تاسو باید د لښګتونو د پوره کولو لپاره غوښتنلیک وړاندې کړئ**

که چیرې تاسو په عادي کمپ کې اوسیږئ، نو د لاندې لګښتونو د پوره کولو لپاره باید غوښتنه وکړئ:

- روغتیایي خدمات
- هغه درمل چې په نسخه وي
- د غاښونو درملنه

ټول هغه کسان چې د کډوالو په کمپونو کې ژوند کوي، کولای شي چې د لاندې لګښتونو د پوره کولو لپاره غوښتنه وکړي:

- د سترګو معاینه او عینکې او یا د نورو هغو شیانو لپاره چې د ورځینو چارو په سرته رسولو کې ورته اړتیا لرئ.
- د غاښونو اړینه درملنه
- اړین ترانسپورت
- اضافي کالي (جامې) او او نور توکي
- په کمپ کې د اورلګېدنې او یا نورو پېښو له کبله د زیانمنو شویو توکو تاوان
- په ثانوي زدکړو، پوهنتون او یا د نیمه لوړو زدکړو کې د اړتیا وړ توکي
- د هویت د اسنادو د ترلاسه کولو لګښت، که چیرې مو په هویت کې د شک له امله محدوده اجازه ترلاسه کړې وي

**خپله برخه پیسې**

کله چې تاسو په عادي کمپ کې ژوند کوئ، په کال کې باید یوه ټاکلې اندازه پیسې د روغتیایي مرستو، غاښونو د درملنې او اړینو شیانو لکه د عینکو د لګښتونو د پوره کولو لپاره پخپله ورکړئ. دې ته د پیسو ټاکلی حد ویل کیږي.

که د پناه غوښتنې غوښتنلیک مو رد شوی وي او یا مو غوښتنلیک د واقعیتونو پر بنسټ نه ارزول کیږي، نو تاسو د پیسو ټاکلی حد نلرئ.

[1] د ملي بیمې د قانون ۱۴-۱۷ مادې

## تاسو کولای شئ پیسي مخکي ترلاسه کړئ

که چیرې مخکي له دې چي د خپلي برخي پیسو اندازه مو پوره کړي وي دې ته اړتیا وي چي د لګښتونو د پوره کولو لپاره باید د مالي مرستي غوښتنه وکړئ، کولای شئ غوښتنه وکړئ چي د خپلو پیسو یوه برخه له ټاکلي وخت څخه مخکي ترلاسه کړئ (پیشکي بسنتیزه مالي مرسته). له راتلونکي ځل څخه به تاسو کمي پیسي ترلاسه کوئ (د بنسټیزې مالي مرستي اندازه به کمه شي). په دې توګه به تاسو هغه مخکي درکړل شوې پیسي (پیشکي) بېرته ورکړئ.

که چیرې تاسو د اړتیا وړ شیانو د اخیستلو لپاره مرستي ته اړتیا ولرئ او یا هم د نورو اړینو شیانو د پیسو د تحویلولو لپاره مرستي ته اړتیا لرئ چي په دې لیک کي یې یادونه نه ده شوې، نو د پیشکي پیسو غوښتنه کولای شئ.

## مقررات

په کمپ کي د پیسو د ترلاسه کولو حق او ستاسو مکلفیتونه د کمپونو د اوسېدونکو د مالي حقونو په مقرراتو کي ټاکل شوي دي. تاسو یاد مقررات په لاندې انټرنت پاڼه کي موندلای شئ:

www.udiregelverk.no

همدارنګه تاسو په دې پاڼه کي UDI 2024-002-V1 موندلای شئ، چي په هغي کي د بسټیزې مالي مرستي اندازه ښودل شوې ده.